# قبرونه

د فنا کيدلو پيغام ورکوي

14 شَعْبَانُ الْمُعَظَّم
(د شبِ براءت داجتماع بيان)



14 شَعۡبَانُ الۡمُعَظَّم (د شبِ براءت د اجتماع بيان)

# قبرونه د فنا کيدلو پيغام ورکوي

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ ط

اَمَّا بَعۡدُ! فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ اللّٰہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ اللّٰہ

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُود شريف فضيلت

حضرت عَلَّامه محمد بِن احمد قُرطُبِـي رحمۃُ اللہِ علیہ ليکي: يو ځل د اِمام حسن بصري رحمۃُ اللہِ علیہ په خدمت کښې يوه زنانه حاضره شوه او عرض ئې اوکړو: زما پيغله لور وفات شوې ده، زه په خوب کښې د هغې حال معلومول غواړم، څه عمل راته اوښائې! اِمام حسن بصري رحمۃُ اللہِ علیہ هغې ته عمل اوښودلو. زنانه کور ته لاړه، څه چې ئې ورته فرمائيلي وو، په هغې ئې عمل اوکړو نو خپله لور ئې په خوب کښې په داسې حال کښې اوليدله چې د هغې په بدن د تارکولو لباس وو، په څټ کښې ئې زنځير او په ښپو کښې ئې بيړئ پرتې وې، د دې هيبَت ناك منظر په ليدلو زنانه سخته اويريدله، په دويمه ورځ بيا د اِمام حسن بصري رحمۃُ اللہِ علیہ په خدمت کښې حاضره شوه او خپل خوب ئې بيان کړو. حضرت اِمام حسن بصري رحمۃُ اللہِ علیہ چې د وفات شوې جينئ حال واوريدلو نو ډير خفه شو. څه موده پس اِمام حسن بصري رحمۃُ اللہِ علیہ په خوب کښې يوه جينئ اوليدله چې په جنَّت کښې په تخت ناسته ده او تاج ئې په سر دے. هغې هغوئي رحمۃُ اللہِ علیہ ته اووئيل: زه د هغې زنانه لور يم، چا چې تاسو ته زما حال بيان کړے وو، اِمام حسن بصري رحمۃُ اللہِ علیہ اوفرمائيل: هغې خو ته په عذاب کښې ليدلې وې، دا انقلاب څنګه راغے؟ هغې مرحومې اووئيل: د مقبرے په خوا يو کس تيريدو،

هغه په خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرُود شريف اولوستلو، د هغه د دُرُود شريف لوستلو په بَرَکت الله پاك مونږه 560 قبرونو والؤ نه عذاب اوچت کړو.[1]

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! تاسو د دُرُود شريف برکت اوليدلو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! الله پاك د خپل خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره ډير محبت کوي، ځکه خو هغه په دُرُود شريف کښې داسې برکت اېښودے دے چې بندګان هميشه دُرُود شريف لولي نو دغسې به د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر هُم کيږي او د بندګانو د بخښنې اسباب به هُم جوړيږي. کاش چې مونږه هم په کثرت سره د دُرُود شريف لوستلو عادت جوړ کړو. په شَعْبَانُ الْمُعَظَّم کښې خو ډير ډير دُرُود شريف لوستل پکار دي ځکه چې شَعْبَانُ الْمُعَظَّم د دُرُود شريف مياشت ده. شيخ شهَابُ الدِّين حِجازِي رَحْمَةُ الله عَلَيه ليکي: بيشکه شَعْبَانُ الْمُعَظَّم د دُرُود شريف لوستلو مياشت ده ځکه چې آيتِ دُرُود يعني د سيپاره 22، سُورهٔ اَحزاب مشهور آيتِ کريمه

| | |
|---|---|
| اِنَّ اللّٰهَ وَ مَلٰٓىٕكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ ؕ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَ سَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿۵۶﴾ (پاره:22،سورهٔ اَحْزاب:56) | [مفهوم] ترجمهٔ کَنزُالايمان: بيشکه الله او د هغه فرښتے دُرود ليږي په هغه غيب ښودلو والا (نبي) باندې، اے ايماندارو! په هغوئي باندې دُرُود او ډير ډير سلام اوليږئ! |

دا آيتِ کريمه په شَعْبَانُ الْمُعَظَّم کښې نازل شوے وو.[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1 ...اَلتَّذْکِرَه، جز:1،صفحه:68۔
2 ...مَوَاهِبُ اللَّدُنِيه، جلد:2،صفحه:506۔

# د بيان اوريدلو نيتونه

مُحترمو اسلامي وروڼړو! ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه کوو: فرمَانِ مُصطَفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم: " اَفۡضَلُ الۡعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ" رښتينے نيت بهترين عبادت دے.(1)

اے عاشقانِ رسول! نيك او جائز کار کښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات کيږي.

✿ د عِلمِ دِين حاصلولو نِيَّت اوکړئ او نور دا نيتونه اوکړئ چې ✿ نظر به ښکته ساتم او ښه په غورسره به بيان اورم. ✿ چې څومره کيدے شي د ډډه وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت د اَلتَّحِيَّات په شکل کښې کښينم ✿ د علم زده کولو د پاره به پوره بيان اورم ✿ د بيان په دوران کښې به د سُستئ نه ځان بچ ساتم ✿ د خپلې اصلاح د پاره به بيان اورم ✿ څه چې واورم نورو ته به ئې د رَسَولو کوشش کووم.

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيۡب! ✿✿✿ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اے عاشِقانِ رسول! ✿ نن شبِ براءت يعني د نجات شپه ده ✿ نن د خير و برکت او عظمتونو شپه ده ✿ د رحمتونو تيز باران راوريږي ✿ نن د بخښې شپه ده ✿ په دې شپه اللّٰه پاك په خپلو بندګانو باندې ډير رحمتونه نازلوي ✿ نن د دُعاګانو قبليدو شپه ده ✿ نن د رزق تقسيمولو شپه ده.

---

1 ...جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284۔

## په لکونو ګنهګاران بخښلے کيږي

د ټولو مسلمانانو خوږه مور اُمُّ الْمُؤْمِنِيْن حضرت عائشه صِدِّيقه طَيِّبه طاهره رضی اللہ عنہا فرمائي: ما يوه شپه سرورِ کائنات صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم په بستره اونه ليدلو، چې تلاش مې کړلو نو معلومه شوه چې هغوئي صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم په بقيعِ پاك کښې دے، خوږ نبـي صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم اوفرمائيل: بيشکه **اللّٰه** پاك د **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** په پينځلسمه شپه په آسمانِ دُنيا باندې تَجَلِّـي فرمائي، پس په دې شپه **د قبيلهٔ بَنُو کلب د چيلو د وينبتو نه هم زيات ګنهګاران بخښي.**[1] بَنُو کلب د عربو يوه قبيله وه، په کتابونو کښې ليك دي چې هغوئي به ډيرې زياتې چيلۍ ساتلې.[2]

سُبْحٰنَ اللّٰه! د يوې چيلۍ په بدن څومره وينبته وي، هغه څوك شميرلے شي؟ معلومه شوه چې په دې شپه د کروړاؤ خلقو بخښنه کيږي.

## قبرونه آخرت وريادوي

اے عاشِقانِ رسول! مونږه واوريدل! چې خوږ آقا صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم د شعبان په پينځلسمه شپه جَنَّتُ البقيع ته تشريف وړے وو. جَنَّتُ البقيع د مدينے مُنَوَّرے مشهوره مقبره ده. د دې روايت نه معلومه شوه چې نن شپه مقبرے ته تلل هم زمونږ د خوږ نبـي صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم مبارك سُنَّت دې. ډير ښوا نه د مسلمانانو معمول دے چې په شَبِ براءت کښې مقبرو ته ځي او خپلو خپلوانو او وفات شوو مسلمانانو د پاره د بخښنې دُعاګانې کوي. **اللّٰه** پاك دِ مونږ ته هم د دې توفيق راعطا کړي. په شَبِ براءت کښې يا د دې نه علاوه

1 ... ترمذی، کتاب الصوم، صفحه: 207، حديث: 739 ملتقطاً۔
2 ... مرقاۃ المفاتیح، کتاب الصلوٰۃ، جلد: 3، صفحه: 339، زيرِ حديث: 1299۔

هم مقبرو ته تلل ډير فائده مند دي. زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم فرمائي: **قبرونه وينئ! بيشکه قبرونه ليدل د دُنيا نه بے رغبته کول کوي او آخرت ور يادوي.**[1]

## د زړه د سختئ علاج

يو ځل يوه زنانه د اُمُّ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا خوا ته راغله او د زړه د سختئ د علاج تپوس ئې ترينه اوکړو، اُمُّ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا ورته اوفرمائيل: مرګ ډير ډير يادوه...! هغې زنانه علاج واوريدلو او لاړه او په کثرت سره ئې مرګ يادول شروع کړو، يو څو ورځې پس هغې ته د زړه د سختئ نه شِفا ميلاؤ شوه، هغه زنانه بيا د هغې رَضِیَ اللهُ عَنْهَا په خدمت کښې حاضره شوه او شکريه ئې ادا کړه.[2]

يو ځل يو سړے د حضرت اِمام احمد بِن حنبل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضر شو او د زړه د سختئ شکايت ئې اوکړو، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ورته اوفرمائيل: مقبرے ته ځه، او [بل کار دا کوه چې] د يتيم په سر لاس ګرځه (يعني د دې دوو کارونو سره به ستا د زړه سختي ختمه شي).[3]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## کاش! چې ټول د دې کفنونو د غل په شان وے...!

حضرت سعيد بِن جُبَير رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: يوه ورځ مونږه د صحابئ رسول حضرت عبدُالله بِن عبّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا خوا ته ناست وو، په دې کښې يو سړے راغے او عرض

---

1 ...ابن ماجه، کتاب الجنائز، باب: ماجاء فى زيارة القبور، صفحه:252، حديث:1571۔
2 ... مجموع رسائل ابن رجب، ذم قسوة القلب، جلد:1، صفحه:265۔
3 ... مجموع رسائل ابن رجب، ذم قسوة القلب، جلد:1، صفحه:265۔

ئې اوکړو: اے اِبنِ عبَّاس! **نافرمانه د اللّٰه پاك په بارګاه کښې ښنګه ذِليله دے! او د اللّٰه پاك په اطاعت کښې تادي کوونکے ځومره ښه دے!** اے اِبنِ عبَّاس! ګنهګار خلق د **اللّٰه** پاك د قُرب نه ځومره غافِله دي....!! هغه کس دا خبرې اوکړې او لاړو. خلقو عرض اوکړو: **محترمه!** دا کس د کفنونو غل دے، د فِکر آخرت په خبرو کولو باندې دا خپله ګناه پټوي، چې کله شپه شي، نو مقبرے ته ځي او کفن غلا کوي، حضرت عبدُاللّٰه بِن عبَّاس رضی اللّٰه عنهما اوفرمائيل: داسې نه شي کيدے (يعني يو د کفنونو غل داسې خبرې نه شي کولے)، تر څو پورې چې ما په خپلو سترګو په کفن غلا کولو نه وي ليدلے، زه دا يقين نه شم کولے. خلقو عرض اوکړو: صحيح ده، که تاسو داسې غواړئ نو مونږه به ئې تاسو ته اوښائيو. چې شپه شوه، هغه کس چا ته چې به خلقو د کفنونو غل وئيلو، هغه د خپل کور نه را اووتلو، لالټين ئې په لاس کښې وو او مقبرے طرف ته روان شو، خلقو حضرت عبدُاللّٰه بِن عبَّاس رضی اللّٰه عنهما د ځان سره کړو او په هغه پسې شاته روان شو، هغه کس مقبرے ته اورسيدو او مقبرے والؤ ته ئې داسې سلام اوکړو: **اے تنګ قبرونو والؤ!** په تاسو دِ سلام وي، **اے د چينجو خوراك جوړيدونکو! اے په مصيبتونو کښې نښتو مړو!** په تاسو دِ سلام وي. بيا ئې اووئيل: **اے مقبرے والؤ!** ستاسو سفر ځومره اوګړد دے! ستاسو لاره ځومره خطرناکه ده! کاش چې ما ته پته وے چې تاسو په کوم حال کښې ئې؟ په خپل دُنياوي ژوند باندې پښيمانه ئې او که د **اللّٰه** پاك په بارګاه کښې حاضريدو باندې خوشحاله ئې؟ تاسو زمونږ نه **مخکښې** رسيدلي ئې او مونږه ستاسو خوا ته د درتللو په اِنتِظار يو، چرته چې تاسو پراته ئې، زمونږه به هم دغلته اوسيدل وي، **اللّٰه** پاك دِ په تاسو برکتونه نازِل کړي! چې کله مونږه قبرونو ته اورسيږو نو کاش چې په مونږه رحم اوکړے شي.

هغه سړي ځان له يو قبر کنستے وو، مقبرے والؤ ته د سلام کولو نه پس هغه سړے هغه خالي قبر ته کُوز شو او خپل مخ ئې په زمکه کيښودو او په چغو چغو ئې اووئيل: هائے زما بربادي! کله چې ما يواځې په قبر کښې کيږدي، نو قبر به ما ته داسې وائي: ستا د پاره خير راغلے نشته، زه به ستا د پاره نه فراخه کيږم، ته په ما د پاسه اوسيدلې او د **الله** پاك نافرماني به دِ کوله، نن ته ما ته دننه راغلے ئې، اوس به زه په تا باندې تنګ شم، نن به تا په مصيبتونو کښې اونښلووم. هائے هائے! بيا چې کله په ورځ د قيامت د خپل قبر نه بهَر را اوځم، زما د ګناهونو بوج به زما په ملا وي، زما مور و پلار به زما نه لرې تښتي، آه! هغه د حشر ميدان چې يو غږ کوونکے به ما ته غږ اوکړي، زه به د خپل ګاونډيانو د صَف نه بهَر اُوځم او مخکښې به ورشم، زما پټ ګناهونه به ښکاره شي، زه به د خلقو په مخکښې پښيمانه او ذليله اودريږم، زما غم به اوګرځيدی شي، بيا به زه د خپل ربِّ قَهَّار بارګاه ته حاضر کړے شم. هائے هائے! هغه وخت به څومره سخت وخت وي. **الله** پاك به فرمائي: اے بنده! ته به د ګناه کولو په وخت د خلقو نه پټيدې خو ما به ليدلې، آيا زما ليدلو ستا د پاره څه اهَمِيَّت نه لرلو...؟

د دې خبرې سره هغه سړے بےهوشه شو، چې کله په هوش کښې راغلو نو آسمان طرف ته ئې اوکتل او **الله** پاك ئې ياد کړو، حضرت عبدُاللّٰه بِن عبَّاس رضی الله عنهما لرې ولاړ وو او دا ټول منظر ئې ليدلو، بيا حضرت عبدُاللّٰه بِن عبَّاس رضی الله عنهما ور مخکښې شو او په کوم قبر کښې چې دننه هغه سړے ملاست وو، د هغه خوا ته ئې تشريف يووړلو او اوئې فرمائيل: **خوږه دوسته! تا د ګناهونو نه د بچ کيدو څومره ښکلې طريقه اختيار کړې ده، آؤ! په هُم دې طريقه ګناهونه د بيخ نه ويستل کيدے شي.** بيا هغوئي

رضی اللہ عنہ خلقو طرف ته اوکتل او اوئې فرمائيل: **که دا د کفنونه غل وي نو کاش! چې ټول داسې وے.** [1]

اے عاشِقانِ رسول! تاسو اوليدل چې هغه سړے به مقبرے ته تللو او ښتکه عبرت به ئې حاصلولو او په فِکرِ آخرت کښې به مصروفه اوسيدلو. کاش چې مونږ ته هم فِکرِ آخرت رانصيب شي.

## مقبرے ته ځئ او عبرت حاصلوئ!

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! مقبره د عبرت مقام دے. په مونږه کښې به خامخا هر يو انسان مقبرے ته تلے وي، آيا کله مو غور کړے دے چې د مقبرے خاموشه فضا او د غم نه ډکې هواګانې د خپل حالت په ذريعه دا اعلان کوي چې: **اے د دُنيا په ژوند باندې مطمئن اوسيدونکو! تاسو ټول به يوه ورځ دې شرې ته جور قبر ته دننه ضرور راځئ.**

## مصيبت خو په قبرونو کښې دننه دے

د حضرت اِمام حُسَين رضی اللہ عنہ مُتَعَلِّق روايت دے چې کله به هغوئي قبرونه اوليدل نو فرمائيل به ئې: د بره نه دا قبرونه څومره ښکلي ښکاري خو مُصيبت په دې کښې دننه دے، **الله! الله!** اے د **الله** بندګانو! په دُنيا کښې مه مشغوله کيږئ! **بيشکه قبر د عمل کور دے**، نيك اعمال اوکړئ! د دې نه غفلَت مه کوئ ....! [2]

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! دا واقعي حقيقت دے! په ظاهره په مقبره کښې خاموشي وي، هر طرف ته خاموشي خوره وي خو د دې قبرونو دننه ماحول داسې نه

---

1 ... بستان الواعظين، صفحه:166و167ملتقطاً۔

2 ... بستان الواعظين، مجلس فی ذکر القبور، حکاية عن الحسين، صفحه:157۔

دے، قبر د بره نه د خاورو يو ډيرے ښكاري خو د دې دننه مُعامَله ډيره تشويش ناكه ده، هيڅ چا ته معلوم نه دي چې زما سره به په قبر كښې څه كيږي. د **الله** پاك د محبوب او آخري نبـي صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم فرمان مبارك دے: **د قبر منظر د ټولو منظرونو نه زيات ويروونكے دے.**[1]

## د قبر د ټولو نه وړومبۍ خبرې

حضرت مُجاهِد فرمائي: قبر انسان سره د ټولو نه اوَّل دا خبرې كوي: زه د چينجو كور يم، زه د تنهائې كور يم، زه د ويرې نه ډك كور يم، زه د تيارو كور يم، دا هغه دي كوم چې ما ستا د پاره تيار كړي دي، وايه! **تا زما د پاره څه تياري كړي ده؟**[2]

## مړے چې درې ورځې پس اووينې نو...!

اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت عُمَر بِن عبدُالعزيز رحمۃ اللہ علیہ يو ځل خپل يو ملګري ته اوفرمائيل: اے وروره! د مرګ ياد زما خوب تښتولے دے، زه ټوله شپه ويښ ووم او د قبر په باره كښې مې سوچ كولو. اے وروره! كه ته درې ورځې پس مړے په قبر كښې اووينې نو په دُنيا كښې د اوګړدې مودے پورې د هغه سره د اوسيدلو باوُجود به ته د هغه نه اُويَريږې، كه ته د هغه د قبر دننه حِصّه اووينې نو په هغې كښې چينجي ګرځي او د هغه بدن خوري، د هغه د بدن نه نَـو جاري دے، سخت بوۍ ترينه راځي، د هغه كفن زوړ شوے او شليدلے دے، هائے! هائے! غور اوكړه! دا مړے چې كله ژوندے وو نو ښكلے ښائسته وو، خوشبو به ئې هم بهترينه لګوله، ښكلې ښائسته جامے به ئې هُم

---

[1] ...ترمذی، کتاب الزہد، باب: ما جاء فی ذکر الموت، ص554، حدیث: 2308۔
[2] ... احیاء العلوم، کتاب ذکر الموت و ما بعدہ، بیان حال القبر و اقاویلھم عند القبور، جلد: 4، صفحہ: 588۔

اغوستلي...!! راوي وائي: د دې خبرو کولو نه پس حضرت عُمَر بِن عبدُالعزيز رَحمَۃُ اللّٰهِ عَلَيه په ژړا شو، يوه چغه ئې د خُلې نه اُووتله او بےهوشه شولو.[1]

## د قبر زړه درزوونکے حکايت!

حضرت عُمَر بِن عبدُالعزيز رَحمَۃُ اللّٰهِ عَلَيه د يوے جنازے سره مقبرے ته تشريف يوړلو، هلته د يو قبر خوا ته کښيناستلو او غور و فِکر کول ئې شروع کړو، چا عرض اوکړو: اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن، تاسو دلته يواځې ولې ناست ئې؟ هغوئي اوفرمائيل: اوس اوس يو قبر ما ته غږ اوکړو او اوئې وئيل: اے عمر بن عبد العزيز! زما نه ولې تپوس نه کوے چه کوم خلق ما ته دننه راشي زه د هغوئي سره څه سلوك کووم؟ ما هغه قبر ته اووئيل: ما ته ضرور اووايه. هغه [قبر] اووئيل: کله چه په ما کښې څوك خخ کړے شي نو زه د هغه کفن اوشلووم او بدن ئې ټکړے ټکړے کړم او د هغه غوښې اوخورم. آيا تاسو به زما نه دا تپوس نه کوئ چه زه د هغه د جوړونو سره څه کووم؟ ما اووئيل: ضرور راته اووايه. نو هغه [قبر] اووئيل: "لاسونه ئې د مړوَندونو نه، زنګونان ئې د پنډو نه او پنډۍ ئې د ښپو نه جُدا کووم." د دې خبرو کولو نه پس حضرت سَيِّدُنا عمر بن عبدالعزيز رَحمَۃُ اللّٰهِ عَلَيه په سلګو سلګو اوژړل.[2]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! لږ غور اوکړئ! دا د خاورو ډيرے کوم چې مونږه وينو او په دُنياوي خيالونو کښې ډوب پراته د عبرت حاصلولو نه بغير ئې په خوا تيريږو، د دې خاورو دننه مُعامَله څومره سخته ده خو افسوس! مونږه بيا هم عبرت نه حاصلوو. مونږه د دُنيا په محبت کښې داسې نښتي يو چې قبر راته هډو رايادېږي نه، آه!

---

1 ...احياء العلوم، کتاب ذکر الموت و ما بعده، بيان حال القبر و اقاويلهم عند القبور، جلد:4، صفحه:588۔

2 ...اَلرَّوضُ الْفائِق، مجلس الثامن عشر في قوله تعالیٰ: يوم تبيض وجوه، صفحه:107 مُلَخَّصاً۔

د زړه سختي...!! مونږه په خپلو لاسونو قبر ته مړي كوزوو، د چا پلار د دُنيا نه رُخصَت شي، څوك خپل ورور پخپله قبر ته كوز كړي، څوك د خپل خپلوان جنازه ادا كوي، څوك د خپل دوست سترګي بندوي خو افسوس! د ګناهونو كولو په وجه مو زړه داسې سخت شوے دے چې غفلت مو ختميږي نه، كاش چې مونږه عبرت حاصلوونكي جوړ شو! كاش چې مونږ ته د قبرو آخرت فِكر را نصيب شي.

## د قبر رټل

اے عاشِقانِ رسول! مونږه كه عبرت واخلو او كه نه، كه فكر راسره وي او كه نه، مرګ خو به بهرحال راځي، آه! معلومه نه ده چې كله به زمونږ مرګ راځي، هائے! هائے! د مرګ نه پس به د تيارو نه ډك او وړوكي قبر كښې بند كړے شو، په ظاهره كه مونږه حركت نه شو كولے خو په هر څه به پوهيږو، هائے! هغه وخت به په مونږه څه تيريږي؟ آه! زمونږه نافرمانۍ...! كه الله پاك زمونږ نه ناراضه شو نو زمونږه به څه حال وي؟ د حضرت عبدُ الله بِن عُبَيد رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې د الله پاك خوږ حبيب صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم فرمائي: چه كله د مړي سره راغلي خلق بيرته روان شي نو مړے كښيني او د هغوئي د ښپو آواز اوري او د قبر نه مخكښې هيڅ څوك د هغه سره كلام [يعني خبرې] نه كوي، قبر ورته وائي: اے انسانه! آيا تا زما حالات نه وو اوريدلي؟ آيا ته زما د تنګۍ، بدبوئي، سختې او [زهرژنو] چينجو [مارانو، لړمانو] نه چا نه وے يَرَولے؟ كه داسې وه نو بيا تا څه تياري كړي ده؟[1]

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! لږ سوچ اوكړئ! هغه وخت به مونږه په قبر كښې يواځې يو، سخت ويريږو به، نه به چرته تلے شو، نه به چا ته آواز كولے شو، او د

---

1 ... شرح الصّدور، باب: مخاطبة القبر للميت، صفحه: 86۔

تبنتيدو به هم څه صورت نه وي، هغه وخت چې د قبر دا خوفناک آواز واورو نو څه به راباندې تيريږي!

## آقا کريم ډير زيات اوژړل...!

د اِبنِ ماجه شريف روايت دے، حضرت براء بِن عازِب رضی اللہ عنہ فرمائي: يوه ورځ مونږه د خوږ آقا صلّی اللہ علیہ واٰلہ وسلّم سره په يوه جنازه کښې شريك وو. د دفن کولو په وخت خوږ آقا صلّی اللہ علیہ واٰلہ وسلّم د قبر په غاړه اودريدلو او ډير زيات ئې اوژړل، خوږ آقا صلّی اللہ علیہ واٰلہ وسلّم دومره زيات اوژړل چې د قبر خاوره لـمده شوه. بيا ئې اوفرمائيل: لِمِثْلِ هٰذَا فَاَعِدُّوْا يعني د دې د پاره تياري اوکړئ...![1]

## د غوئي د رمباړو په شان چغې به ئې وهلې

حضرت يزيد رقاشي رحمۃ اللہ علیہ به مرګ ډير زيات يادولو، کله به ئې چې قبرونه اوليدل نو د قبر د تيارو او د تنهائي د ويرې وغيره نه به دومره بےقراره شو چې د هغوئي د خُلې نه به د غوئي د رمباړو په شان د چغو آوازونه راوتل.[2]

## ډيرو ورځو پورې به ئې ډيوه نه بلوله

د حضرت هَشَّام رحمۃ اللہ علیہ عادت مبارك وو چې کله به مقبرے ته لاړو نو بيرته راتللو نه پس به ئې ډيرې ورځې په کور کښې ډيوه نه بلوله او فرمائيل به ئې: په دې طريقه (يعني په کور کښې د تِيارې کولو په ذريعه) زه د قبر تِياره را يادووم.[3]

---

[1] ...ابن ماجه، کتاب الزهد، باب: الحزن و البکاء، صفحه: 681، حديث: 4195۔

[2] ...احياء العلوم، کتاب ذکر الموت و ما بعده، جلد: 4، صفحه: 588، مردے کے صدمے، صفحه: 18 ملتقطاً۔

[3] ...تَنْبِيْهُ الْمُغْتَرِّيْن، صفحه: 86۔

کاش چې مونږه هم د قبر د تياريې فِکر اوکړو. کاش چې مونږه هم د قبر هغه سخته ويره او تنهائي يادوونکي جوړ شو. کاش چې د سترګو نه مو د غفلت پردے لرې شي، زړه مو د دُنيا نه بيزاره شي، د ګناهونو نه نفرت را نصيب شي او قبر روښانه کوونکو کارونو کښې مصروفه شو.

## قبرونه د فنا کيدو خبر ورکوي

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! مرګ په سر ولاړ دے، هره ورځ په مقبره کښې د قبرونو زياتيدل مونږ ته د فنا کيدو خبر راکوي. هيڅ معلومه نه ده چې په مونږه کښې څوك څه وخت مړ کيږي او جور قبر ته رسيږي؟ مونږه دې دُنيا ته راغلي په ترتيب يو يعني اوَّل نيکه، بيا پلار، بيا څوئ، بيا نمسے دُنيا ته راځي خو د مرګ دا ترتيب کيدل ضروري نه دے. ډير ځله داسې شوي دي چې بوډا نيکه ژوندے وي او نمسے ئې مړ شي، د چا نيکه [يعني د مور پلار] ژوندے وي او مور ئې وفات شي. په مونږه کښې به د چا د کور نه د هغه د ورور جنازه اوچته شوي وي، د چا به مور د هغوئي په مخکښې د مرګ غيږې ته رسيدلي وي، د چا به پلار وفات شوے وي، د چا به ځلمے بچے په حادثه کښې مړ شوے وي، د چا به نيا د دُنيا نه سفر کړے وي، د خپلو خپلوانو وفات کيدونکو په شان به مونږه هم يوه ورځ ناڅاپه دا دُنيا پريږدو. بيا به مونږه هم په قبر کښې پراته يو، آه! هغه د تنهائې کور يوه ورځ زمونږه مستقِل کور (يعني د اوسيدو ځائے) جوړيدو والا دے.

## د قبر يوه عبرتناکه کُتبه

حضرتِ محمد بن سَمّاک رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: يوه ورځ زه يو قبرستان ته لاړم، هلته زما نظر په يوه کُتبه پريوتو [يعني د قبر سر ته چې يوه د ماربل وغيره تخته لګيدلي وي او په

هغي د مړي نوم وغيره ليکلے شوے وي، په هغې زما نظر پريوتو]، په هغې باندې دا عبرتناک شعرونه ليکلي وو:

| | |
|---|---|
| تَمُرُّ اَقَارِبِيْ جَنْبَاتِ قبرىُ | كَاَنَّ اَقَارِبِيْ لَمْ يَعْرِفُوْنِيْ |

[د شعر ترجمه:] زما عزيزان زما د قبر په خوا داسې تيرېږي لکه هغوئي چې ما هډو پيژني نه.

| | |
|---|---|
| وَقَدْ اَخَذُوْا سِهَامَهُمْ وَرَاحُوْ | فَيَالِلّٰهِ اَسَرَعُ مَا نَسُوْنِيْ |

[د شعر ترجمه:] هغوئي د وراثت نه خپلې حصّے واخستلې او په راحت شولو، آه! زما عزيزانو زه څومره زر هير کړم[1]

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو! څنګه د عبرت خبره ده! زمونږ د دُنيا نه د تللو نه پس به يو څو ورځې ژړاګانې وي، دريمه به راپسې اوکړي، بيا وومه، بيا څلويښتمه، څه موده به قبر له هُم راځي او فاتحه به راته لوَلي، بيا به---- په قلاره قلاره د هغوئي نه هير شو- افسوس! يو څو کاله به زمونږ د قبر نښه باقي وي بيا به په قلاره قلاره هغه نښه هُم ورانه شي او مونږ به داسې شُو لکه هډو دُنيا ته چې راغلي نه وو.

| | |
|---|---|
| بے وفا دُنیا پہ مت کر اعتبار | تُو اچانک موت کا ہو گا شکار |
| موت آ کر ہی رہے گی یاد رکھ | جان جا کر ہی رہے گی یاد رکھ |
| کام مال و زر نہیں کچھ آئے گا | غافِل انساں یاد رکھ پچھتائے گا |
| گورِ نیکاں باغ ہو گی خُلد کا | مجرِموں کی قبر دوزخ کا گڑھا |

## د مرګ نه هيڅ څوک نه شي خلاصيدے

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو! دا دُنيا فاني ده، واقعي فاني ده، افسوس! مرګ به راځي او ضرور به راځي، چې مونږ دُنيا ته راغلي يُو نو اوس د مرګ نه په هيڅ شان خلاصے

1 ... بستان الواعظین، مجلس فی ذکر القبور، بکر بن حماد، صفحہ: 158-

نشته- **الله** پاک په قرآنِ کريم کښې اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| قُلْ اِنَّ الْمَوْتَ الَّذِیْ تَفِرُّوْنَ مِنْهُ فَاِنَّهٗ مُلٰقِیْكُمْ ثُمَّ تُرَدُّوْنَ اِلٰى عٰلِمِ الْغَیْبِ وَ الشَّهَادَةِ فَیُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ۠ (۸) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان:: ته اوفرمايه، هغه مرګ، د کوم نه چې تاسو تښتئ، هغه خو به ضرور تاسو له راځي، بيا به د هغه (**الله** پاک) طرف ته ګرځولے کيږئ، کوم چې د پټ او ښکاره هر څيز عِلم لري، بيا به هغه تاسو ته اُوښائي څه چې تاسو کړي وو. |

## مَلَكُ الْمَوت عَلَيْهِ السَّلَام هر کور ته راځي

مونږ ته دا حقيقت معلوم دے خو افسوس! مونږ د دُنيا په رنګينو کښې داسې ورک يُو چې مرګ مو بالکل داسې هير کړے دے لکه هډو به چې مړه کيږو نه، خو ياد ساتئ! مونږه مرګ هيروو خو مرګ به مونږه نه هيروي-

حضرتِ امام حسن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: **مَلَكُ الْمَوت** عَلَيْهِ السَّلَام روزانه هر کور ته درې ځله تشريف راوړي او په غور سره ګوري، په هغوئي کښې چې د چا رزق پوره شوے وي، د هغه روح قبضه کړي، چې کله ترينه روح واخلي نو د کور کسان ژړا غوغا شروع کړي، دغه وخت **مَلَكُ الْمَوت** عَلَيْهِ السَّلَام په دروازه کښې اودريږي او فرمائي: ما ستاسو هيڅ قصور نه دے کړے، زه خو د **الله** پاک له طرفه مقرر يم، زه به تاسو له بيا بيا راځم، تر دې پورې چې په تاسو کښې به هيڅ څوک هُم پاتې نه شي **(1)**.

1 ...شرح الصُّدور مترجم، صفحه: 107-

# د يو بادشاه عبرتناکه واقعه

حضرتِ **وَهْب** بِن **مُنَبّه** رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه فرمائي: يو بادشاه وو، **الله** پاک هغه ته ډير نعمتونه ورکړي وو، ډيره لويه بادشاهي ئې وه، ډير د مزے سره ئې شاهانه ژوند تيرولو، يوه ورځ بادشاه سلامت د خپلې بادشاهۍ د دورے کولو اراده اوکړه-

تيارئ شروع شوې، د بادشاه سلامت د پاره کپړے حاضر کړے شوې، بادشاه يوه جوړه اوکتله خوښه ئې نه شوه، بله ئې اوکتله هغه ئې هُم خوښه نه شوه، په سوونو جوړې ئې اوکتلې، آخر په هغې کښې ئې يوه جوړه خوښه شوه، بادشاه سلامت هغه جوړه واغوستله. بيا د سوَرلئ د پاره اسونه حاضر کړے شُو، بادشاه سلامت په سوونو اسونو کښې د خپلې خوښې يو اس منتخب کړو، بيا لښکر حاضر شو او په ډير لوئ شان و شوکت بادشاه سلامت په سفر روان شو. داسې ټِپ ټاپ---!! داسې شان و شوکت---! بادشاه سلامت په کبر او غرور کښې اخته شو، سر ئې اوچت شو، بيا بادشاه سلامت د تَڪَبُّر په نشه کښې د خپلې بادشاهۍ دوره شروع کړه او د ډير تَڪَبُّر نه ئې خلقو ته هُم نه کتل.

په هُم دې تَڪَبُّر کښې دوره جاري وه چې يو غريب سړے د بادشاه مخې له راغلو، زړې جامے، او ښکاره حال ئې هُم ډير ښه نه وو، هغه کس بادشاه ته سلام اوکړو. بادشاه سلامت خو د غرور او تَڪَبُّر په نشه کښې وو، هغه چرته د يو غريب سړي د سلام جواب ورکول خوښول. هغه کس اُووئيل: بادشاه سلامت زما تاسو سره ضروري کار دے. بادشاه سلامت د هغه په خبره هډو غوَږ اُونه ګرولو. بيا هغه سړے په ډيره بهادرئ سره ورمخکښې شو او د اس واګې ئې اُونيولې. په دې باندې بادشاه له ډيره غُصّه ورغله او په زوره ئې اُووئيل: اے سړيه! واګې پريږده---! هغه غريب سړي ډير د سادګۍ په انداز کښې اُووئيل: بادشاه سلامت زما تاسو سره ډير ضروري کار دے. بادشاه د خپل ملک په

دوره وو، که خبره ئې نه اوريدلے نو د عِزَّت مسئله ئې جوړيدله، بهرحال د خپل عزت ساتلو د پاره ئې اُووئيل: وايه! څه خبره ده: غريب سړي اُووئيل: يوه د راز خبره ده، په غوږ کښې به درته وايم. بادشاه په اس ناست سر ورښکته کړو، هغه کس د بادشاه غوږ ته خُله نزدې کړه او ورته ئې اُووئيل: بادشاه سلامت! زه **مَلَكُ الْمَوت** [يعنې د مرګ فرښته] يم، ستا روح ويستلو د پاره راغلے يم.

اَللّٰهُ اَکۡبَر! په دې خبره بادشاه سخت اُويريدو او بدن ئې په لړزان شو او د مخ رنګ ئې هُم بدل شو، د ډيرې ويرې نه ئې په رپيدو رپيدو او په ډيره عاجزئ ئې اُووئيل: اے **مَلَكُ الْمَوت** عَلَيْهِ السَّلَام! دا وخت ما ته مُهلت راکړئ چې د سلطنت دوره پوره کړم او کور ته اورسيږم نو بيا رانه رُوح واخلئ. **مَلَكُ الْمَوت** عَلَيْهِ السَّلَام اُوفرمائيل: په **الله** پاک مې دِ قَسَم وي: نور به ته خپل سلطنت [يعني بادشاهي] نه شې ليدلے او نا ته به د خپل کور والؤ طرف ته د تللو اجازت هُم نه ملاويږي. **مَلَكُ الْمَوت** عَلَيْهِ السَّلَام دا اُووئيل او د بادشاه رُوح ئې قبضه کړو، لږ ساعت مخکښې چې کوم بادشاه د غرور او تَکَبُّر په نشه کښې په ډير تَکَبُّر کښې روان وو هغه په زمکه راپريوتو او د هميشه په خوب اُوده شو.

آگاه اپنی موت سے کوئی بشر نہیں | سامان سو برس کا ہے، پَل کی خبر نہیں

## بيشکه قبر ستاسو مخې ته دے

يو ځل حضرتِ حَمّاد رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه اديرې ته تشريف يوړلو، قبرونه ئې چې اوليدل نو د وفات شوو خلقو مُتَعَلِّق ئې غور و فِکر اوکړو او په ژړا شولو، تر دې چې د مسلسل ژړلو ژړلو په وجه ئې ګيره مبارکه په اوښکو لـمده شوه، بيا ئې د عربئ شعرونه اُووئيل او اُوئې فرمائيل: اے خلقو! قسم په خُدائے چې په نيکو اعمالو کښې کوشش اوکړئ! بيشکه قبر ستاسو مخې ته دے، مرګ ستاسو په تلاش کښې په تاسو پسې ګرځي، څه چې تاسو جمع کړي دي نزدې ده چې هغه به تقسيم کړے شي، کوم عمارتونه چې تاسو جوړوئ نزدې

ده چې هغه به شړ شي، بيا به تاسو تنګ قبر ته کوز کړے شئ، پس د چا سره به چې د نيکو اعمالو توښه وي د هغه قبر به د جَنَّت د باغونو نه يو باغ جوړيږي خو کوم نادان چې به د نيکو ذخيره جمع کولو کښې ناکامه پاتې شوے وي، د هغه قبر به د دوزخ د کندو نه يوه کنده جوړه کړے شي- اے ورونړو! زر کوئ نيک اعمال جمع کړئ--![1]

## د قبر تياري اوکړئ----!

اے عاشقانِ رَسُول! واقعي مرګ ډير نزدې دے، هيڅ معلومه نه ده چې **مَلَكُ الْمَوت** عَلَیْهِ السَّلَام درنګ ساعت له تشريف راوړي او مونږه د مرګ په خوب اُوده کړي.

عَلَّامه اِبنِ جوزي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: **اے وروره!** که دا معلومول غواړې چې د مرګ نه پس به په قبر کښې ستا څه حال وي نو د دې د پاره قبرستان ته لاړ شه! هلته موجودو قبرونو ته اوګوره او غور و فکر اوکړه، بيا په خيالونو خيالونو کښې اوګوره چې ته په توره تِياره قبر کښې پروت ئې، بيا غور اوکړه چې په قبر کښې تا ته د کوم څيز ضرورت دے؟ يقيناً ستا ضمير به وائي چې ما ته دا وخت د نيکو اعمالو ضرورت دے، بيا دا سوچ اوکړه چې که تا له اوس مرګ راشي نو آيا تا سره په قبر کښې په کار راتلونکي اعمال شته دے؟ که ستا حالت داسې وي چې ستا سره دومره نيک اعمال موجود دي چې د هغې په وجه به ته د قيامته پورې په قبر کښې په سکون سره اوسې او ته په خپل هُم دې حالت باندې مړ کيدلو د پاره تيار ئې نو بيا ته په خپل هُم دې حالت باندې قائم اوسه او اِستِقامت سره نيک اعمال کوه او که داسې نه وي او ستا اعمال په قبر کښې په کار راتلونکي نه دي بلکه ستا اعمال د قبر په عذاب کښې اخته کوونکي دي نو د **الله** پاک په بارګاه کښې تِيټ شه---! او فوراً توبه اوکړه او د خپل قبر تياري شروع کړه---![2]

---

1 ... بستان الواعظین، مجلس فی ذکر القبور، بکر بن حماد، صفحہ: 158۔
2 ... بستان الواعظین، مجلس فی ذکر القبور، العبرۃ بالقبور، صفحہ: 156۔

# توبه اوکړئ!

اے عاشقانِ رَسُول! نن شَبِ بَراءَت [يعني د نجات شپه] ده، دوزخ نه د خلاصي شپه ده، د بخښنې او مغفرت شپه ده- راځئ چې نن د ګناهونو نه رښتيني او پخه توبه اوکړو، په تير ژوند کښې چې رانه کوم ګناهونه شوي دي راځئ چې نن د خپل رَبِّ کريم نه د هٰغه ګناهونو د بخښنې سوال اوکړو، د حق دارانو حقونه ادا کړو او د نن نه په نيکو کارونو کښې مصروفه شُو او د خپل قبر و آخرت تياري شروع کړو- بيشکه زمونږه رب رَحْمٰن او رَحِيْم دے، د هغه رحمت ډير لوئي دے، که مونږه د زړه په اخلاص توبه اوکړو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيْم! هغه به زمونږه بخښنه اومغفرت اوکړي- سيپاره:24، سورهٔ زُمَر، آيت:53 کښې ارشاد شوے دے:

| | |
|---|---|
| قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿۵۳﴾ | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: ته اوفرمايه اے زما هٰغه بندګانو کومو چې په خپلو ځانونو زياتے کړے دے د الله د رحمت نه مه نا اُميده کيږئ، بيشکه الله ټول ګناهونه بخښي، بيشکه هُم هغه بخښونکے، مهربانه دے- |

## د درې ځله دُعائے مغفرت برکت

امام اَبُو اللَّيث سمر قندی رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ليکي: پخوانو قومونو کښې يو کس وو، هغه ډير ګناهونه کړي وو، يو ځل هغه د خپل تير ژوند د ګناهونو په باره کښې غور و فِکر اوکړو نو هغه ډير شرمنده شو او په خپلو ګناهونو پښيمانه شو او درې ځله ئې اُووئيل: اَللّٰهُمَّ غُفْرَانَکَ، اَللّٰهُمَّ غُفْرَانَکَ، اَللّٰهُمَّ غُفْرَانَکَ مولیٰ! ستا [له طرفه] بخښنه... اِلٰهی! ستا [له طرفه] بخښنه، اے الله پاکه! ستا [له طرفه] بخښنه- هغه له په هُم هغه ساعت مرګ راغے او الله پاک د

هغه بخښنه اوکړه.[1]

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! معلومه شوه چې څوک په خپلو ګناهونو پښيمانه شي او د اللّٰه پاک نه بخښنه اوغواړي نو رَبِّ کريم د هغه توبه قبلوي او د هغه بخښنه کوي۔

## د قبر د ويرې نه بچ کوونکې کارونه

فَقِيه اَبُواللَّيث سمرقندی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: څوک چې د قبر د تنهائی او ويرې نه بچ کيدل غواړي هغه له پکار دي چې څلور کارونه اختيار کړي او څلورو کارونو نه ځان ساتي۔ څوک چې هُم داسې اوکړي هغه به د قبر د تنهائی او ويرې نه بچ شي.

هغه څلور کارونه کوم چې کول دي: 1: لمونځ 2: صَدَقه 3: تلاوتِ قرآن 4: ډير ډير ذِکْرُ الله، د دې څلورو نيکو اَعمَالو په برکت به د هغه قبر روښانه او فراخه شي۔

هغه څلور کارونه د کومو نه چې بچ کيدل دي: 1: دورغ 2: خيانت 3: چُغلي 4: د متيازو څاڅکي۔[2]

## قبر کښې په کار راتلونکے وړومبے عمل

اے عاشقانِ رَسُول! په قبر کښې وړومبے په کار راتلونکے عمل لمونځ دے:

د مسلمانانو د پاره د ټولو نه وړومبے فرض لمونځ دے خو افسوس! چې زمونږه جُماتونه شړ پراته دي، يقيناً "لمونځ د دِين ستن ده."

(کَنْزُ الْعُمَّال، کتاب الصلاة الفصل الثانی فِی فضائل الصلاة، الحديث: ۱۸۸۸۵، ج ۷، ص ۱۱۵)

لمونځ د اللّٰه تعالیٰ د رضا سبب دے، د لمانځه په سبب رحمت نازليږي، د لمانځه په ذريعه ګناهونه معاف کيږي، لمونځ د بيمارو نه بچ کول کوي، لمونځ د دُعاګانو د قبليدو سبب دے. (کَنْزُ الْعُمَّال، الحديث: ۱۹۰۳۶، ج ۷ ص ۱۲۷)

---

1...تنبيه الغافلين، صفحه: 53۔
2...تنبيه الغافلين، صفحه: 19۔

د لـمانځه په ذريعه په روزئ کښې بَرَکت کيږي، لـمونځ د تِيارے نه د ډك قبر ډيوه [يعني رنړا] ده، لـمونځ د جَنَّت کُنجي ده. (اَلْمُسْنَد للاِمام اَحمَد بِن حَنْبَل، حديث١٤٦٦٨ ج٥ ص١٠٣)

لـمونځ د مُومن نُور دے. (اَلجامِعُ الصَّغِير، باب الصاد، الحديث:٥١٨٠، ص٣١٩)

لـمونځ د خوږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سترګو يخوالے دے.

(كَنْزُ الْعُمَّال، كتاب الصلاة، باب فِي فضائل الصلاة، الفصل الثاني، الحديث:١٨٩٠٨ ج٧ ص١١٧)

لـمونځ د پل صِراط د پاره آساني ده، لـمونځ ګُزاره ته به د خوږ مُصطَفیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شفاعت نصيب کيږي.

نِيَّت اوکړئ چې د نن به زمونږ يو لـمونځ هُم نه قضا کيږي، پينځه وخته لـمونځ به په جُمات کښې د جَمعې سره ادا کوو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! او خدانخواسته که مخکښې چا لـمونځونه پريښودي وي نو هغه دِ زر زر قضا هُم راوګرځوي.

## په قبر کښې په کار راتلونکے دويم عمل: صَدَقه

اے عاشقانِ رَسُول! په قبر کښې دويم په کار راتلونکے عمل صَدَقه و خيرات کول دي:

د الله پاک کے آخری نبی، رسولِ هاشمی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارک فرمان دے: اِنَّ الصَّدَقَةَ لَتُطْفِئُ عَلٰى اَهْلِهَا حَرَّ الْقُبُوْرِ بے شکه صدقه د قبر ګرمي مره کوي وَ اِنَّمَا يَسْتَظِلُّ الْمُؤْمِنُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِىْ ظِلِّ صَدَقَتِهٖ او بيشکه مُسَلمان به په ورځ د قيامت د خپلې صَدَقې په سَوري کښې وي-[(1)]

د قبر د ګرمئ او ويرې نه بچ کيدلو د پاره صَدَقه و خيرات خپل عادت جوړ کړئ! صَدَقه د بد مرګ نه د بچ کيدلو ذريعه ده، صَدَقه په عُمر کښې بَرَکت راولي، صَدَقه د

---

1 ... شُعَبُ الايمان، بابُ الزکاۃ، جلد: 3، صفحه: 212، حديث: 3347-

الله پاک غضب يخوي، صَدَقه کولو سره په رزق کښې بَرَکت کيږي، غريبي ورسره ختميږي، صَدَقه د رحمتِ اِلٰهی حاصلولو ذريعه ده.

د نن په دې بابرکته شپه کښې د الله پاک د رضا د پاره د صَدَقه و خيرات کولو نِيَّت هُم اوکړئ [د الله پاک په نوم هر مال خرچ کولو وغيره ته صدقه وائي] په چا چې زکوٰة جوړيږي هغه نِيَّت اوکړئ چې پوره پوره زکوٰة به ادا کووم [ځکه چې زکوٰة ورکول خو په صاحِبِ نصاب باندې فرض دي]- د نفلي صدقے کولو هُم نِيَّت اوکړئ، که څوک عاجزه غريب هُم دے هغه دِ هُم د الله پاک د رضا د پاره د خپل وس مناسب صدقه ورکوي، اګر که يوه روپئ وي، د پاره د دې چې هغه هُم د صدقے ورکولو د ثوابونه او فضيلتونو حقدار جوړ شي.

الله پاک دِ مونږ ټولو ته توفيق رانصيب کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## قبر کښې په کار راتلونکے دريم عمل: تلاوتِ قرآن

اے عاشقانِ رَسُول! په قبر کښې دريم په کار راتلونکے عمل د قرآنِ پاک تلاوت کول دي: قرآنِ کريم د الله پاک کلام دے- تِلاوتِ قرآن د رحمتونه حاصلولو ذريعه ده- د تِلاوت په برکت مصيبتونه لرې کيږي- د تِلاوت په برکت غمونه لرې کيږي- تِلاوت کول سُنّتِ مُصطَفیٰ دي- تلاوت کول د صحابه طريقه ده- تِلاوت د قيامت د سختو نه نجات ورکوي او د تِلاوت برکت قبر روښانه کيږي، د تِلاوت په برکت د قبر د عذاب او ويرې نه نجات حاصليږي.

## واه څه به وائي د عاشقِ قرآن

منقول دي چې حضرت ثابِت بُناني رَحمَةُ اللهِ عَلَيه ډير نيك، پرهيزګاره بنده وو، هغوئي رَحمَةُ اللهِ عَلَيه به هميشه د ورځې روژه نيوله او ټوله شپه به ئې عبادت کولو، حضرت ثابت

بُناني رَحمَةُاللهِ عَلَيه د قرآن پاک د تلاوت ډېر شوق لرلو، هره ورځ به ئې د قُرآنِ پاك يو ختم کولو.[1] د هغوئي رَحمَةُاللهِ عَلَيه يو ښکلے عادت دا هم وو چې هغوئي به د کوم جُمات په خوا تيريدلو په هغې کښې به ئې دوه رکعاته (تَحِيَّةُالمَسْجِد) ضرور ادا کول. د تحديثِ نعمت په طور فرمائي: ما د جامِع مسجد د هرې ستنې خوا ته د قُرآنِ پاك ختم کړے دے او د **الله** پاك په بارګاه کښې مې ژړا فرياد کړے دے.[2]

د حضرت ثابِت بُناني رَحمَةُاللهِ عَلَيه د لمَانځه او تِلاوَت سره خاص مينه وه. د دې په برکت په هغوئي رَحمَةُاللهِ عَلَيه د **الله** پاك داسې کرم اوشو چې د رشك قابِل دے- د وفات کيدو نه پس د خخولو په وخت کښې يوه خښته اوښوئيده او **قبر** ته دننه پريوتله، خلق چې کله د خښتې اوچتولو د پاره ور ښکته شو نو حيران شو چې هغوئي رَحمَةُاللهِ عَلَيه په **قبر** کښې ولاړ وو او لمُونځ ئې کولو! د هغوئي رَحمَةُاللهِ عَلَيه د کور د کسانو نه چه معلومات اوکړے شو نو لور صاحبې ئې اووئيل چې والِدِ مُحترم رَحمَةُاللهِ عَلَيه به هره ورځ دا دُعا کوله: يا **الله** پاکه! که ته چا ته د وفات نه پس په **قبر** کښې د لمانځه کولو سعادت ورکوې نو ما ته هُم دا شَرف راعطا کړې.'' [3] منقول دي: چې کله به هُم خلق د هغوئي رَحمَةُاللهِ عَلَيه د مزار مُبارك په خوا تيريدل نو د **قبر** مبارك نه به ئې د قُرآنِ پاك د تِلاوت آواز راتللو.[4]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! نِيَّت اوکړئ چې مونږ به هُم اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم د قرآنِ مجيد ډېر ډېر تلاوت کوو- **الله** پاک دِ توفيق رانصيب کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

1 ...حلية الاوليا، جلد:2، رقم:2575، صفحه:364۔

2 ...حلية الاوليا، جلد:2، رقم:2577، صفحه:364۔

3 ...حلية الاوليا، جلد:2، رقم:2568، صفحه:362۔

4 ...حلية الاوليا، جلد:2، رقم:2583، صفحه:366۔

## په قبر کښې په کار راتلونکے خلورم عمل: ذکرِ الٰهی

اے عاشقانِ رَسُول! په قبر کښې خلورم په کار راتلونکے عمل ذِکرُ الله کول دي: زمونږه خوږ آقا مکّی مَدَنی مُصطَفیٰ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: چې کله هُم خلق د الله پاک د ذِکر د پاره جمع شي نو فرښتے هغوئي پټ کړي- د الله پاک رحمت هغوئي په خپله غیږه کښې واخلي او په هغوئي سکینه [سکون، اطمینان] نازلیږي. (1)

د ذِکرُ الله د کثرت کولو ډیرې ډیرې فائدے دي، د ذِکرُ الله کثرت سره په زړه کښې نُور پیدا کیږي- د ذِکرُ الله کثرت سره د الله پاک قُرب حاصلیږي، د ذِکرُ الله کثرت سره ګناهونه معاف کیږي، کثرت سره ذِکرُ الله کول د انبیائے کرامو عَلَیْهِمُ السَّلَام سُنّت دي- د ذِکرُ الله کثرت سره د زړه زنګ لرې کیږي- د ذِکرُ الله کثرت سره په دُنیا کښې امن نصیب کیږي او د ذِکرُ الله کثرت سره قبر روښانه کیږي-

الله پاک دِ مونږ ته کثرت سره د ذِکرُ الله کولو توفیق رانصیب کړي- اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## په قبر کښې نقصان ورکوونکي خلور اعمال

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د حضرتِ سَیِّدُنا فقیه ابو اللَّیث سمرقندي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د بیان مطابق خلور بد عملونه هغه دي کوم چې د قبر د عذاب سبب ګرځي، مونږ ټولو له پکار دي چې بالخصوص د دې ګناهونو نه او بالعموم د هرې ګناه نه د ځان ساتلو پوره پوره کوشش کوو.

1...مسلم، کتاب الذکر و الدعا، باب فضل الاجتماع علی تلاوة، صفحه:1039، حدیث:2700۔

# دروغ وئيل

د حضرتِ سَيِّدُنا فقيه ابو الليث سمرقندي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د بيان مطابق د عذابِ قبر سبب جوړيدونکے وړومبے عمل دروغ وئيل دي:

زمونږه خوږ، صادِق و امين نبي، رسولِ هاشِمي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: دروغ د ګناه طرف ته بوتلل کوي او ګناه جَهنَّم ته د تللو سبب ده، بيشکه بنده تل دروغ وائي، تر دې چې د **الله** پاک په نزد کذّاب (يعني ډير لوئي دروغژن) اوليکلے شي [(1)].

دروغ وئيل ګناهِ کبيره ده- **الله** پاک دِ ټول مسلمانان د دروغو وئيلو نه په امان کښې اوساتي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

# خيانت کول

د قبر د عذاب سبب جوړيدونکے دويم عمل خيانت کول دي، خيانت دې ته وائي چې د چا په ايښودلي شوي امانت کښې ناجائزه ردّ و بدل کول يا امانت بيرته نه واپس کول.

حضرت مجاهد رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: دهوکه او خيانت په وور کښې دي، دهوکه ورکول او خيانت کول د مسلمانانو اخلاق نه دي.

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! ✿✿✿ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1 ... بخاری، کتاب الادب، صفحہ: 1515، حدیث: 6094۔

## چُغلي کول

د قبر د عذاب سبب جوړيدو والا دريمه ګناه چُغلي ده- د فساد اچولو د پاره د يو خبره بل ته رَسَولو ته چُغلي وائي. [1] د الله پاک آخري نبي مُحَمَّدِ عَرَبِی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: چغل خوري کوونکي به الله پاک (د قيامت په ورځ) د سپو په شکل کښې پاڅوي. [2]

الله پاک دِ مونږ ته د چغلئ او نورو ټولو ګناهونو نه د بچ کيدلو توفيق رانصيب کړي. اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## عذابِ قبر نه سلامتئ د پاره صفا اوسيږئ

د عذابِ قبر سبب جوړيدونکے څلورم بد عمل دے د متيازو د څاڅکو نه ځان نه بچ کول- د الله پاک رسول، رسولِ مقبول صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عبرت نه ډک فرمان دے: اکثر عذابِ قبر د متيازو (د څاڅکو نه د نه بچ کيدلو) په وجه کيږي- [3]

يا الله پاکه! مونږه د ټولو ګناهونو نه په خپل امان کښې اوساتې. اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار : "نيك اعمال"

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رَسُول ديني تحريك دعوتِ اسلامی ديني ماحول کښې د رَجب او شَعبان د روژو سپرلي وي په مختلفو ځائيونو کښې د سحري اجتماعاتو هم اِهتمام کيږي، ډير عاشقانِ رَسُول په دې دواړو مياشتو کښې کثرت سره روژے نيسي او مسلسل روژو نيولو سره دا عاشقانِ رَسُول د رَمَضانُ المُبارَك سره ميلاؤ شي. تاسو هم د دعوتِ اسلامی ديني ماحول سره وابسته شئ، او 12 ديني

---

1...شرح مسلم للنووی، جلد: 1، صفحه: 12-

2...الجامع فی الحديث، باب العزلة، صفحه: 534، حديث: 428-

3...ابن ماجة، كتاب الطهارة، باب التشديد فی البول، صفحه: 69، حديث: 348-

کارونو کښې د زړه په اخلاص سره حصه واخلئ. اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! د دې په برکت به مو د ګناهونو پريښودو، نيکو کولو او د خپل قبر و آخرت د تيارئ کولو ذِهن جُوړ شي. د ذيلي حلقے **12** ديني کارونو کښې يو ديني کار: **72 نيك اعمال** هم دي.

**اَلْحَمْدُ لِلّٰه!** شيخِ طريقت، اَمِيرِ اهلسنّت، بانئ دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا ابُوبلال **محمد** اِلياس قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه خپلو مريدانو، طالبانو او عقيدت مندو او د ټولې دُنيا عاشقانِ رسول ته د خپلې اصلاح بهترينه نُسخه ورکړې ده او هغه رساله ده: ''**نيك اعمال**''. دا **مختصره** رساله د **مكتبةُ المَدينه** نه قيمتاً واخلئ، که غواړئ نو د دعوتِ اسلامي د ويب سائټ **www.dawateislami.net**_نه ئې ډاؤنلوډ کړئ او که نوره آساني غواړئ نو په خپل موبائل کښې **Naik Amaal** [نيک اعمال] ايپلي کيشن ډاؤنلوډ کړئ، هره ورځ ئې ګورئ او د دې مطابق ژوند تيروئ او هره ورځ د خپلو اعمالو جائزه اخلئ. اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! د دې رسالے په برکت به مو د ګناهونو نه د بچ کيدو او د نيکو کولو ذِهن جوړ شي، د زړه پاك والے به درنصيب شي او کردار به مو ښکلے ښائسته او صفا سُتره شي. راځئ چې د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے اورو:

## ټول کور لـمونځ ګزار شو

د ضلع اټك (پنجاب) د يو اسلامي ورو بيان دے چې ما به د ګناهونو نه ډك ژوند تيرلو، فلمونه کتل، فضول ګرځيدل، لمُونځونه قضا کول وغيره زما په معمولاتو کښې شامِل وو، يو ځل زمونږ علاقے ته د عاشِقانِ رسول مَدَني قافِله راغله، په هغوئي کښې يو اسلامي ورور ما ته د ماښام لمَانځه ادا کولو او په بيان کښې د شرکت کولو دعوت راکړو، زما خوش نصيبي وه چې زه هغوئي سره جمات ته لاړم، د ماښام د لمَانځه نه پس مې چې بيان واوريدلو نو زړه ته مې سکون نصيب شو او ډير خوند ئې راکړو، د بيان په آخره کښې مُبَلِّغ د ''**نيك اعمال**'' رسالے تَعارُف اوکړو، په رساله ''**نيك اعمال**'' کښې ليکلو

د نيکو نه ډك د ژوند تيرولو مدني ګلونه مې چې واوريدل نو ډير زيات مُتأَثِّره شوم، د دې رسالے په صورت کښې مې چې د شيخِ طريقت، اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د اُمَّت د اِصلاح سوچ اوليدو نو ما په هغه ساعت فوراً د بيعت د پاره خپل نوم ور اوليکو او عَطَّاري جوړ شوم، د ولــئ کامِل سره د نسبت په وجه مې زړه د ګناهونو نه بيزاره شو او نيکو طرف ته مائل شو، ما د ګناهونو نه توبه اوکړه او د دعوتِ اسلامي ديني ماحول مې اختيار کړو، د دې په برکت زما اخلاق ښائسته شو، زما د دې بدلون زما د کور په خلقو هم ښه اَثر اوشو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! په قلاره قلاره د ټول کور کسان قادري، رضوي او عَطَّاري جوړ شو، په کور کښې مو د لمُونځونو پابندي شروع شوه، فلمونه ډرامے، سندرې او باجے بندې شوې او د ګناهونو ډك چينلو په ځائے مدني چينل کتل شروع شو.

**نوټ:** د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې اوس "**مَدَني انعامات**" ته "**نيك اعمال**" وئيلے کيږي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنّتو فضيلت او يو څو سُنّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. يوه ورځ تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دربې ځله اِرشاد اوفرمائيل: "زما په نائب دِ د **الله** پاك رحمت وي، عرض اوکړے شو: حُضُور! ستاسو نائب څوك دے؟ اوئې فرمائيل: زما د سُنّتو سره محبت کوونکي او نورو ته زده کوونکي." (1)

| | |
|---|---|
| کروں کاش! سُنّت کے مطابق میں ہر اِک کام | تُو پیکرِ سُنّت مجھے اللہ بنا دے(2) |
| اے کاش! زما هر کار شي د سُنّتو مطابق | پيکر کړې د سُنّتو ما، زما خوږه مَولٰى |

---

1...جامع بیانِ عِلم، بَابُ: عِلم کے فضائل، جلد: 1صفحه: 201، حدیث: 220۔

2...وسائل بخشش، صفحه: 118۔

# د عمامه شريف سُنَّتونه او آداب

**دوه فرامينِ مصطفٰی** صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: **(1)** عِمامے سره لمُونځ د لس زره نيكو برابر دے. [1] **(2)** عِمامه تړئ! ستاسو حِلم به زياتيږي[2]

**اے عاشقانِ رسول!** ❁ عمامه په ولاړه تړئ او پاجامه په ناسته اغوندئ ❁ چا چې د دې اُلټا عمل اوكړو هغه به په داسې مرض كښې اخته شي چې علاج به ئې نه وي (يعني طبيبانو ته به ئې د دوائي علم نه وي) ❁ مناسب دا دي چې د عمامے وَل د سر ښي طرف ته لاړ شي ❁ د **الله** پاك آخري رسول صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مباركې عمامے شِمله به عام طور (د مباركې ملا) په شا وه، كله كله به ښي طرف ته، كله به د دواړو اوګو تر مينځه دوه شملے و ❁ كيڼ [يعني ګڅ] طرف ته شمله زوړندول خِلافِ سُنَّت دي ❁ د عمامے د شملے مقدار کم از کم خلور ګوتې او زياتو نه زيات (د ملا د نيمې پورې تقريباً) يو لاس (د لاس مينځنئ ګوتې د سر نه واخله تر څنګل پورې ناپ ته يو لاس وائي)، ❁ عمامه مخ په قبله په ولاړه تړئ ❁ په مرأت شريف كښې دي: عمامه شريف په ولاړه تړل سُنَّت دي كه په جمات كښې وي او كه بل ځائے كښې وي او❁ په عمامه كښې سُنَّت دا دي چې دوه نيم ګزه نه كمه نه وي، او نه د شپږو ګزو نه زياته وي او دا ګنبد نما تړلې شوې وي.

د عمامے تړلو فضائل او د دې په باره كښې تفصيلي معلوماتو د پاره د مكتبةُ المَدينه كتاب "عمامہ کے فضائل" مطالَعه اوكړئ. **الله** پاك دِ مونږ ته هم د سُنَّت په نيت هميشه د عمامے تړلو توفيق راعطا كړي. اٰمِيۡن بِجَاہِ النَّبِيِّ الۡاَمِيۡن صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

---

[1] …مسندالفردوس، جلد:2، صفحه:406، حديث:3805۔

[2] …مستدرك، كتاب:اللباس، جلد:5، صفحه:272، حديث:7488۔

د سُنَّتو زده کولو د پاره د بهارِ شریعت جلد 3 نه حِصَّه 16 او د شیخِ طریقَت، اَمِیرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الیاس عطّار قادِری دامت برکاتهم العالیه د 91 صفحو کتاب "550 سُنّتیں اورآداب" واخلئ او اولولئ ئي. اٰمِین بِجَاهِ النَّبِیِّ الْاَمِین صلی الله علیه واله وسلم

الله پاک دِ مونږ ته د عمل کولو توفیق رانصیب کړي. اٰمِین بِجَاهِ النَّبِیِّ الْاَمِین صلی الله علیه واله وسلم